سرلوڅ مرادزی ۲۰۱۹/۰۷/۳۱

# وېده ملت ته!

ژمی تېر دی لا تر اوسه خبر نه یی
پسرلي پستو ورېمو باندې وېښ نه شوې
د ورېمو د الهامي زیرو تر څنګه
د باران په ترانو باندې وېښ نه شوې
د سپرلي برېښنا او تندر جوړ محشر کي
د اسمان په غرغړو باندې وېښ نه شوې
نور قومونو اوښان چوو کړل، کډې بار شوې
د کاروان په بارېدو باندې وېښ نه شوې
د تاریخ په هر تاوکښ او موړ کې ماته
په تکرار د تجربو باندې وېښ نه شوې
د سیالانو منځ کې پاتې له سیالیو
د سیالانو پیغورو باندې وېښ نه شوې
د خیرات او د بخښش په تمه ناسته
د سوالونو په پیسو باندې وېښ نه شوې
نه له مغزه دي کار واخیست، نه له متو
د دي دواړو په نېرو باندې وېښ نه شوې
د وېښتوب یو راز که خپل تاریخ کې نغښتی
د خپل تېر تاریخ لوستو باندې وېښ نه شوې
انتحار او انفجار دې ژوند تبا کړ
د دښمن په دسیسو باندې وېښ نه شوې
ای د مرګ په خوب پراته، وېده ملته
د پېریو په اوښتو باندې وېښ نه شوې
اسرافیل که دې راوېښ کړي، ژوند به تېر وي
د شاعر سویو نارو باندې وېښ نه شوې
شعروزمه خیالونه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ